Pashto Version

# واکسینونه ژوند ژغوري



## واکسین مونږه روغ ساتي او ژوند ژغوري.

کله ناکله د امریکي په متحدو ایالتونوکې د واکسین کوولو اسناد یاثبوت ښایې یوه اړتیا وي. د بېلګې په توګه: کله چې تاسو خپل ماشومان په ښوونځي کې شاملوی او یا هم چې کله د ځینو دندو دپاره غوښتنلیکونه سپاری او همداراز د ګډوالۍ په ځینوچارو کې د واکسین ثبوت یا اسناد اړین وي.





شا اوخوا سل کاله کیږي چې واکسین شتون لري. واکسین مونږ د ډیرو جدي ناروغیو لکه شرې، پولیو، زکام،کورونا (COVID-19) او داسې نورناروغیو څخه ژغوري.

## واکسین د بل هر طبي درملو په پرتله د ډیروخلکوژوند ژغورلی دی.



واکسین څه ګټې لري؟ واکسینونه خوندي او د اعتباروړدي او د نارغیو مخنیوی کوي. واکسینونه د مکروبونو، باکتریااوو او وایرسونو پروړاندې ستاسو د بدن د معافیت سیستم پیاوړی کوي.

وړاندې تردې چې مکروبونه تاسو ناروغ کړي، واکسین ستاسو بدن ته لارښوونه کوي چې د هرډول مکروبونو پروړاندې مبارزه وکړي. لکه څنګه چې یو ماشوم ته لیکل او لوستل وربنودل کیږي، نوهمداړنګه واکسین د انسان بدن ته د هرډول ناروغۍ یا مکروبونو پروړاندې د مبارزې درس ورکوي او د بدن معافیتي سیستم دا هرڅه په یاد ساتي.



د واکسین وخت، فریکونسی او اندازه (دوز) یي توپیر کوی. د بیلګي
په توګه، ځیني واکسینونه د ماشومتوب په دوران کي ډیر ګټور وي.
ځیني نوري بیا چي کله یو کس بالغ، زوړاو یا هم امیدواره ووسی
ورته ورکوول کیږي.







کیدای شي یوشمیر ځانګړو ځایونو ته د
سفرپرمهال هم واکسین ته اړتیا وي.

ځیني واکسینونوته یواځي یو ځل اړتیا وي او ځیني بیا
لکه د زکام واکسین هرکال باید واخیستل شي.



اِد واکسینونو په اړه پوښتني
لرئ؟ د خپل د روغتیایي چارو
د چمتوکوونکي (ډاکتر) سره
خبري وکړئ. هغوی کولای شي
تاسواو ستاسوکورنی ته د اړینو
واکسینونود اخیستو په برخه کي
غوره مشوره درکړي.

په یادوساتئ: واکسینونه خوندي، اعیزمن او د ژوند ژغورونکي دي. ډیری
ټولني واکسینونوته د راتلونکي دپاره د هیلو د سمبول په توګه ګوري. زمونږ
او زمونږ د عزیزانو د ژغورلو یواځنی لار واکسینونه دي. تاسوهمدا نن له خپل
ډاکتر سره خبري وکړئ.

NRC-RIM National Resource Center for Refugees, Immigrants, and Migrants

CORE Cultural Orientation Resource Exchange

Cultural Orientation Resource Exchange

For more information, visit Settle In at settleinus.org.